**د ارشاد، حج او اوقافو وزارت**

**د بهرنيو اړيکو رياست**

**اجر ائيه مديريت**

**د اسد مياشتې کاري راپور۱۴۰۳ لمريز کال**

| گڼه | سرليک | د فعاليتونوتفصيل | اجراء کوونکې څانگه | پلان شوی يا غير پلان شوی | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ر سمي مکتوبونو او ايميلونو لـه لارې لـه نورو ادارو او غير دولتي بنســټونو سره اړيکې ساتل او د مر ستو جلبولو پـه موخـه د همغږۍ را منځته کول. | ۱- د مختلفو ولايتونو د اوسېدونکو لس (۱۰) پاڼې عرائض د مساجدو د اعمار په موخه مؤ سســاتو ته معرفي شــوي دي. | اجرائيه مديريت | پلان شوی | |
| ۲ | د ر سمي مکتوبونو په و سيله د بهرنيو چارو وزارت له لارې له نورو هيوادونو سره اړيکـه نيول، او اړوند کـارونـه مخته وړل. | ۲- د ۱۴۴۵هـ ق کال د حج د مراسمو د درې (۳) تنو حاجيانو چې په ترافيکي پېښه کې شهيدان شوي وه د حقوقو اخيســتلو ا سناد يې له بهرنيو چارو وزارت سره شريک شـول، تر څو يې د ديپلوماتيکو لارو په و سيله د سعودي عربســتان لـه محـاکمو سره شريـک کړي. | لــه عــربي او ا سلامي او نورو ټـولو هـيـوادونـو سره د اړيــکـو آمريتونه | پلان شوی | |
| ۳ | لـه غير امـارتي او غير حکومتي بنســټونو سره اړيــکــې جــوړول او همغږي رامنځ ته کول او د ارشـــاد، حج او اوقافو وزارت د مقرراتو او لوائحو پـه چوکـات کې له بېلابېلو بنسټونو سره د مر ستو د جلبولو پـه موخـه د هوکـړه ليکونو د متونو تدوينول او جلسې دائرول. | ۳- پـه ۱۴۰۳/۵/۱ نېټـه د جينوا غړ مؤسسې له مسئولينو سره کاري ناسته تر سره شــوه او په لاندې دوو مواردو بحث وشو:<br>۱- د جينوا غړ مؤسسې د هغو فعاليتونو راپور له وزارت سره شريکول کوم چې يې له وزارت سره د تفاهمنامې تر چتر لانـدې پـه ولايتونو کې تر سره کړي دي.<br>۲- د جينوا غړ موسسې د آموزشي موادو په هکله له علماى کرامو څخه نظرونه اخيســتل او په کتاب کې يې ځاى پر ځاى کول. | له غير امارتي او غـيـر حـکـومـتي ادارو سره د اړيکو آمريت | پلان شوی | |

**د ارشاد، حج او اوقافو وزارت**

**د بهرنيو اړيکو رياست**

**اجرائيه مديريت**

**د اسد مياشتې کاري راپور۱۴۰۳ لمريزکال**

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | ۴- د (ORCDG) مؤسسې له کارمندانو سره په بهرنيو اړيکو ريا ست کې د (قرآنکريم د زده کړې په موخه د يتيمانو د ملاتړ) تر عنوان لاندې پروژې په تخنيکي اړخونو بحث او جلسه تر سره کول.<br>۵- د هلال مؤ سسې له کارمندانو سره د لا نبې همغږۍ را منځته کېدو په موخه نا سته وشوه او پر دوی تاکيد وشو چې په ولايتونو کې به خپل فعاليتونه د ارشاد، حج او اوقافو له رياستونو سره په پوره او کامله همغږۍ ترسره کوي.<br>۶- د قمر خيريه بنسټ له خوا چې د کابل ولايت په ده سبز ولسوالۍ کې يو محراب مسجد شريف جوړېږي د اعمار د اسنادو طی مراحل او معرفي.<br>۷- د اقتصاد وزارت د مؤ سساتو د انسجام له محترم رئيس سره کاري جلسه تر سره شوه او په لاندې مواردو خبرې وشوې:<br>۱- د اميرالمؤمنين(حفظه الله) د هغه فرمان او توصيې توزيع مؤ سساتو ته کوم چې د لمانځه د اقامې په هکله توشيح شوي ده.<br><br>۲- د هغو مؤسساتو راجع کول د ارشاد، حج او اوقافو وزارت ته کومې چې د مساجدو د اعمار او ترميم په برخه کې فعاليت کوي.<br><br>۳- د هغو مؤ سساتو مخنيوی کوم چې پرته له تفاهمنامې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت اړوند فعاليتونه په خپل سر تر سره کوي. | | | |

**د ارشاد، حج او اوقافو وزارت**

**د بهرنیو اړیکو ریاست**

**اجرائیه مدیریت**

**د اسد میاشتې کاري راپور ۱۴۰۳** لمریز کال

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | ۸- د ید العون (HHRD)مؤ سسې له کارمندانو سره په مساجدو کې د اته (۸) حلقو څاګانو د حفر په اړه نا سته او د تفاهمنامې د متن تدوین او د وزارت د مقام له لورې د یادې تفاهمنامې لاسلیک.<br>۹- د بشري مر ستو ټولنې له خوا چې په بغلان ولایت کې یو محراب مسجد شریف جوړیږي د هغه د اعمار د اسنادو طی مراحل او معرفي.<br>۱۰- د (TWEDO)مؤسسې له کارمندانو سره په لغمان ولایت کې د (اجتماعي عدالت او ا ساسي حقوقو ته د خلګو لاسرسی) په برخه کې د عامه پوهاوي د تفاهمنامې د تمدید په هکله کاري ناسته او د تفاهمنامې د متن تدوین او د وزارت د مقام له لوري لاسلیک.<br>۱۱- د (AIRO)مؤ سسې له کارمندانو سره په پکتیا ولایت کې د (د محلي شوراګانو د ټولنیز یووالي) په برخه کې د عامه پوهاوي د تفاهمنامې د تمدید په هکله کاري ناسته او د تفاهمنامې د متن تدوین او د وزارت مقام له لوري یې لاسلیک. | | | |

پورته لیکل شوی راپور د بهرنیو اړیکو ریاست د ۱۴۰۳ لمریز کال د اسد میاشتې کاري کړنې روښانه کوي.